فـاروق فـرد ا

# د خيالونو شاعر باراني

فريد بارانی، نادر او ربنتيانی شاعر دی، دشاعرۍ نبنه يې په دې کې ده چې دهغه د شعر فيزيکی او معنوي جوړښت، د انديښني او انځور اډانه ده. د بارانی د انځوريزې دنيا جاج آخيستلو ته ، نه ښايي چې دده د شاعرۍ مکمله تاريخچه وکتل شي او دده دشعر دلوړو ژورو ،ميدانونو پسې دده ژوندليک سرګرداني تيره کړی شي. دهغه هر شعر چې را واخلي، کولای شي يکې شاعر را پيدا کړي .هغه وپيژني او بيايي د کلام د ارتې دنيا په لمنو کې پروازونه وکړي.
دباراني ځانګړنه د ډېرو نورو څخه داده، چې باراني، په هر شعر او په هر شعري کلام کي يو باراني نه دی، يوازی يو شاعر باراني نه دی، يو ليکوال او دشعر يو هستوونکی باراني نه دی. دباراني پيچلی شخصيت او کله کله پخپل ځان کې دننه متضاد او په جنګ شخصيت،مبارز او هڅاند شخصيت،لکه د اوربنت د څاڅکو غونډې يو شان،يو انډول او يو کرکتر نه لري.بارانی په خپل هر شعر کي يو نوی شعری شخصيت دی. د لومړني شعر شاعر باراني د دوهم شعر شاعر باراني هريوه پخپل ذات کې جلال جلا د مطالعي او څېړنو موضوع ګاني دي.باراني هرځلي زېږي نوی کېږي، چې د شعر د اکمال د پيل سره دهغه د زېږد ورځ وي.،د شعر سره زېږون مومي،نوم يې ورسره تړل کېږي ، د شعر سره سم وده کوي او دهغه په پای کې يو نوی بارانی جوتېږي. دباراني د پل خاورې هغه وخت د نوي شعر د پرښتي پر لمنې د رانه آسمان ستورويې شي چې دی له يوه شعره بل شعرته ګام بورته کوي او د قلم له اوښکو څخه مرغلرې جوړې کړي.
دې دتجربي علومو د پوهانو په شان نه يوازې دشعر پر کشفولو پوره لاس بری مومي،بلکه دشعر د هندسي جوړښت نقشه او معماري هم نيسته را هستوي اوله ذهن څخه يې د کاغذ پر مخ ګزارش ورکوي.زموږ يو شمېر شاعران،هغو ښکاريانو ته ورته دي، چې غواړي په يوه ټاکلي ساحه،يا ځنګل او يا ترناوکې ديوې ټاکلي مرغی ښکار پسې وځي. ښکاريان د خپل نيت او دښکاري ټوپک په را اخيستلو سره سم دلاسه پوهېږي چې کومې مرغۍ پسې ځي.سم دواره دمرغۍ بڼه،دبڼکو ډولونه او رنګونه،لکۍ،مښوکه او د بدن هر اندام يې ورته پرمخ راځي.ځکه نو دوی کوم کشف نه کوي،کومه نوي پديده نه رامينځ ته کوي چې دنورو دپاره دحيرت وړ وي. دغه مرغۍ چې دوې ښکار کوي ډېرو خلکو ليدلي وي، خو هغوی به يې د رانيولو امکان يا وسله نه لرله.خو باراني د عنقا مرغۍ ښکاري دی،چې نه يې
دوهم شکل ليدلی او نه يې بڼه،يوازې نوم يې اورېدلی او دهغۍ معنوي ځانګړنو سره آشنا دی.دی ځي،خو نه پوهېږي چېرته ځي،ځکه چې عنقا په لايتناهي کې اوسېږي او باراني مجبور دي چې د لايتنهاي کرلېچې ووهي اوپه يو ځای نه يو ځای کې د عنقا بر بڼکو لاس بری مومي.دی هماالته عنقاويني او پوهېږي چې ښکار يې پای ته رسېدلی دی.کله چې باراني ددې عنقا سره راګرځي،خلک ورته ګوته په خوله حيرانېږي او دده د ښکار په ننداره نه مړېږي. هغه څه چې د باراني له دې کشفه نوروته رسېږي،نوې تجربه ده او نوی زېږون ده .
باراني له څاڅکو څاڅکو څخه شتون مومي او لږ پرمختګ سره د شېلو او رودونو شاعر کېږي.هغه داسې چې دغه لوی شاعر لومړی پخپل ځان کې له يوې ورکې څخه راهست

څاڅکی شي ، څاڅکي شي او بیا دیوه او بل په سینه کې ننوزي اویو نوی زیږد ته ورننوځي ،دغه زیږد،اندېښنه ده چې دباراني شعري لوبه پکښې میخ ټک کیږي او دې پرې د قلم د ګوتو چاپې اندازه کوي.
باراني اندېښنه پسولي او هغه له هغې څخه د خیال پر څرخ وربېښم تلي او نوي شعر د ولو پرښکالو لکه دسینګار شوې ناوې ډولۍ ، تاند ژن ته یې په لاس ورکوي .
خیال دشعر معنوي توکی دی چې د ارسطو له زماني او دهغه تعریفونو څخه نیولې تر ننه پورې دشعر په هکله ویل کیږي چې د شعر اصلي جوهر پر خیال را څرخي.«رسکین » دشعر په تعریف کې بیانوي چې «شعر منلیو عواطفو ته د خیال اقتراح ده».په شعر کې خیال یا انځور،په عمومي توګه په شعر کې ځینټځه بدیده شمیرله کیږي ،چې بویه په غرپې شعر کې هاغومره ژورتیا نه لري لکه چې پر شرقي او په خاصه توګه اسلامي نړۍ کې.یو شمېر چې غربي فیلسوفان او په خاصه توګه «هګل» شرقي او اسلامی نړۍ شعر ته بدبینه بولي له همدې امله ده. دخیال یا انځور په شتون کې دشاعر شعر دهر اندېښمن لوستونکي د مطالعې سره کیدلای شي یو بل نوی شعر شي. باراني همدا ډول شعر لیکي او په دې توګه انځور، لورېینه ،مینه،عاطفه او ددې توکو د زنځیري تصاعد هندسي ترسیم ته دپراخ ذهن له ډکې ځولۍ څخه د کاغذ پر مخ عینیت بخښي.
باراني په ډېر مهارت سره ذهني مفاهیم خوځوي،هغه ته سا وربخښي او په خوځښت یې راولي.دی ،دغه توکي دده په شعر کې لکه ژوندی موجودات ،فرض کړه لکه انسان، عمل کوي، حرکت کوي او دیوې مثبتې یا منفي پدیدې په توګه له ځانه یو، یا زیاتې اغېزې پرېږدي.دباراني د شعر هره اغېزه ځانته یو بل انځور کېدلای شي.
دپښتو ژبې د وییو شمېر د ډېروغني ژبو دوییوو په قاموسونو کې دانډولونو سره سر لګوي.خو په دې خبره هم پوهېدل پکار دی چې شعر په هره ژبه کې خپله ژبه لري او دشعر ژبه د ژب پوهنو له هغې څخه لږ یا ډېر واټن لري، د ژبې هر ویی نشي کولای چې شعري وشمېرل شي.د نمونې په توګه دراخلئ د «خپګان» کلمه. خپګان یوه ذهني پدیده، نه لیدل کیږي او دوه ډوله احساسي او عیني انعکاس لري چې له دې دوو اغیزوڅخه آټکل کیږي او متقابل احساس او عینیت ځان خواته راکاږي. دخپګان مانایي اندی یې دروند دی ،ځکه نو په شعري قاموس کې دیوې منل شوې اصطلاح په توګه کارول کیږي خو زیاد نه منل کېږي. اما باراني له خپګان څخه بیولوژیکي موجودیت را توږي چې لاس وپښې لري او دې ته یوبل بیولوژیکي او عیني انځور لکه زړه پر لاس ورکوي.دلته دواړه مفاهیم هم خپګان او هم زړه عینیتونه دي خو چې کله وایي:
( زړه مې خپګان نیولی)

د«زړه» انځور څخه یو مبنل شوی ذهني احساسي انځور جوړوی او هغه ویني چې د یوه بل احساسي خوځښت په منګولو کې ورڅخه لېرې لېرې ځي او دې ترې خپله آګاهانه ناخبري د (ناخود آګاه) په جامه کې اعلاموي او دخپل احساسي انعکاس پایله په دې مصراع سره تکمیلوي:
(دا مړاوې روح به مې آخر ووژني)

زموږ د دیني باورونو له مخې یوازیني څه چې هیڅکله نه مري ،هغه روح ده.مګر شاعر هغه لومړی په یوه توصیفی اما بیا هم احساسي او عاطفي منفي جامه کې مخکې له مخکې ځنډلې ده چې هغه «مړاوی توب» دی.مړاوی روح. اوس دخپګان په منګولو کې د مړاوي روح دشکنجه کولو او مرګ الهام په ځان کې روزي.

زه چې همیشه وایم او دیوه شمیر منتقدینو سره مې جګړه هم پر دې ده چې زه د ښه شعر او بد شعر په نامه څه نه پېژنم. دشعر تر سرلیک یوه وړاندې شوې لیکنه یا شعر دی ،یا شعر نه دی.که دی،نو ښه او بد نه لري او که نه دی،دبحث وړ نه دی. خو هغه څه چې باراني وړاندې کوي،هغه شعر دی.او باراني ورسره متفکر شاعر دی.

ځکه چې باراني د طبيعت شاعر دی.دطبیعت شاعري دهر چا کار نه دی،هغه په دې خاطر چې دد طبیعت پېژندنه او د هغه په څپاند سیند کې د څپو سره ، نه را ګرزېدونکی تګ دځانګړو کسانو کار دی.

دطبیعت فیزیکی جوړښت او هندسي ترسیم،دهیڅا له سترګو پټ نه دی.مګر د طبیعت د معنوي شتون دخیالي او واقعي انځورونو زړونه ته پرواز کول،شاعرنه وزر غواړي چې له نیکه مرغه الله تعالی ج ،دغه لوړ الوت وزرونه یې باراني ته ډالۍ کړی وو خو له بده مرغه زر پښېمانه شو او نه یوازې هغه وزرونه یې بېرته واخیستل بل که ،دی یې هم ورسره د طبیعت په وریښمن څادر کې د همغو وزرونو سره اوبه اوبه کړ.او مخکې تر دې چې دا کار عینیت وموميي د باراني په په تخیل کې یې ذهني انځورنه ګرزېدلې وو چې د شعر په دوام کې وایي:

زړه مې خپګان نیولی

خدای خبر چیرته یې وړي

دا مړاوې روح به مې آخر ووژني

دلیکنې په سر کې مې یادونه وکړه چې باراني په هر شعر کې دمطالعې وړ دی،ځکه نو زه دهغه بل شعر ته نه ځم، مقاله پر همدې شعر پای ته رسوم.

دانځور جوړونې دپاره ضرور نده چې تصنعي خیال پردازي وشي او د شاعر د رواني منطق له دایرې نه ځان وباسي.تخیل هم د ډېرو مسایلو په شان د منطق په اوږو پرواز کوي او کله کله دهغه بې منطقي، هم د یوه منطق ښکارندویي کوي، اما نه په ساده لید او نظر سره. ساده بیان، په ساده ژبه وړاندې کول او له هغه څخه د ساده انځور پېیل،دسترو شاعرانو کار دی،هغوی چې غواړي ساده بیان پیچلی کړي نه ددې دپاره چې انګېرې ښه انځور یې وړاندې کړی دی،بل که ددې دپاره ده چې لوستونکي ته ستونزه پیدا کړي او په دې توګه ځان پخپله لوړ وګڼي،باراني د لومړي ډلې شاعر دی.زړه یې خپګان ته سپارلی دی، خو نه پوهېږي چې چیرته یې وړي اما په دې پوهېږي چې مړاوی روح یې آخر وژني.

دنیا، د یو کلي افاده ده او هیڅوک انکار نه کوي چې دنیا همیشه ټولیزمفهوم لري او هېڅکله نه یوازې کېږي. ددنیا هستي د دې په ټولیز کې نغښتي ده ، لکه چې د انسان هستي دهغه په حرکت کې نغښتی دی، که نه خوځېږي په مړو کې حسابېږي. هغه چې شاعر وایي:

موجیم که آسودګي ما عدم ماست

ما زنده بر آنیم که آرام نداریم.

دشاعر دانسان پېژندنې پر قوت دلالت کوي چې،یو کتاب مفهوم یې په یو بیت کې رانغاړلی دی.

دنیا همداسې مفهوم دی.مګر باراني مرحوم، د دنیا کلیت و عینیت ته ذهني تنهایي جامه آغوندي او دهغه په لنډ تنګ لمن یا واټن کې د دوو مفاهیمو ننداره ته کېني چې یو یې دواټنونو په «ساړه ذهن» کې د لمر دترانو ترهیدلي خوبونه د بوړبوړکو دښکار په ننداره کیني او ورسره د بې څښتنو سپیو دبې خوبیو د مرګ نظارې ته یې، سترګې د نظر کاروان تړي.

دا تنها دنیا کومه دنیا ده؟.څنګه دا دنیا رالنډ تنګ کېږي،کوچنۍ کېږي او دومره چې د شاعر د کسي په یوه ګوښه کې ځايېږي او دهغه د کسي دارتوالي حسرت وړي.دا د شعر او انځورونو دنیا نه ده،دا هغه دنیا ده چې د مفاهیمو او ټولنیزو قرادادنو لوبې یې مسخره شوي دي او خپل

ارزشتونه یې بایللي دي.دا یوه پېښه ده،چې زه یې نشم لیدلای،ته یې نشې لیدلای ،شاعر یې ویني ،باراني یې ویني او خبر یې ما او تاته په یوه جمله کې په شاعرانه ژبه بیانوي چې (دنیا تنها شوې ده).
هغه واټنونه چې باراني یې طی کوي کوم واټنونه دي؟.دا هغه ټولنیز مفاهیم دي چې د ژان ژاک روسو، فرانسوي لیکوال په قول،هغه قرار دادونه چې ټولنه وربandي دخپل ژوند هستۍ پر مخ بیایي،شاعر یې د یوه نظر په فاصله کې رالنډوي.اما د ژوندیو پدیدو په توګه یې دخپل نظر په منګولو کې آړوي را آړوي او دخیال په بیولوژیکی پاڼه کې یې ذهن ته ننوځي ، ګوري چې دواټنونو ذهنونه ساړه دي.د واټ ژوندی کول،هغه ته د ذهن د درلودلو قابلیدل او بیا د ذهنونو ساړه لیدل،چې په عین زمان کې د بې ځښتنو سپیو د مرګ  نندارې ته کیناستل، د اګزستنسیالیزم یا دهستئ د اصالت د مکتب سره چې د هاید ګر،داستاییفسکي، کافکا،کامیو، کیرککګار، پاسکال.فریدریک نیچه،اموند هوسرل،کارل سایپرس ،ژان پل سارتر او په ایران کې دصادق هدایت او نورو د تفکراتو جاج دی چې د بارانی اندیښنیزه دنیا ورسره اړخ لګوي.
اوس زه ددې تفکر په کره کتني بحث نه کوم، خو دا وایم چې په ځوانه ځوانۍ کې  دې پړاو ته رسېدل، هغه هم د افغانستان تبجنه په حال و  هوا کې  دهر چا کار نه دی.دمرحوم ملنګ جان خبره ده چې وایي:

مینه آسان کار نه دی
ځان ته یو ژوندون غواړي
لوبې دي د اور سره
ټینګ عزم او ترون غواړي.
مرحوملنګ جان.
اوس به وګورو چې باراني ،دغه مزل څنګه وهي،څرنګه پر مخ ځي پر دې ځینه کې څرنګه بام  ته د ختلو په تکل کې، شاته دزینې هر پته ورانوي څو یې د بیرته را ګرزیدلو تکل مړ نه شي.

په دې تنها دنیا کې
د واټنونو په ساړه ذهن کې
ما د بې خوبه بې ځښتنو سپیو مرګ لیدلی

دالید او دا ژوراندیشي دهغه چا کار دی چې د ذهن پرښتې یې په  اوږدو واټنونو کې د ارتې دنیا دساړه ذهن ټولې ریښې  د هوښ په ګوتو لمس کړي وي او  دا باراني دی چې د ډېرو خلکو نه سوا،بې ځښتنو  سپو ته په یوې نا آرامي ټولنې کې د یوه واقعیت په توګه پام ګرزوي، دهغوی د بې  خوبیو د تفسیر جاج اخلي او دهغوي  د مرګ په هیات کې دخپل زړه  ګنګ درد رانغاړي.
هیله او ناهیلۍ هغو احساسونو څخه دي چې د مانایی بار له مخې انسانان په ټولنیزو او رواني ځانګړنو سره  یوه له بله بېلوي. ددې پدیدو درلودل او نه درلودل،پر هغو باور لرل او نه  لرل د انسانانو پر عقیدتي او نورو اندېښنیزو حالاتو پورې اړه لري، خو د دغه دواړه دمتضادو هستیو په توګه  ټولنیز او هنري ارزښمندي هم لري چې یوې هنرۍ هستۍ دزېږد او ودې پر لړ اغېزه ښندي. د دې اغېز نښې کېدای شي ټولنیزې وي او یا کیدالای شي د شخصي ژوند له چاپیریال څخه بهر نه شي.که د شخصي ژوند په چاپیریال کې پاتې کېږي، زیاد دبحث وړ نه دی. خو که ټولنیزه صبغه ولري،لسګونه ډولونه او پوښتنې رامینځ ته کوي چې څرنګه او د چا له خوا ،داسې وشوه چې عاطفو ټکان وخوړ او ټولنه په کلي توګه اغیزمنه شوې ده. دا کوم

شاعر دی؟.شاعر باراني په ځان کې ناهیلی روزي،دباراني ناهیلۍ دده د ځاني ستونزو ناهیلی نه ده، دی د ټولنې د مسلطې ناسمې اندېښنې دجبر د هوا څخه سا آخلی،هغه دننه د خپل «زه» اندېښنیز ماشین کې حلاجي کوي او ورپسې دسترو او خاموشو بیدیاګانو له جامه غړپ کوي،چې دغه تبجنه او وچه سا، دبیدیا د کنایی دخاموشی په خاورینو او سوځندو ګوټونو کې را لنده شي.

ما ناهیلي روزلي
ما د دې سترو بیدیاګانو خاموشي څښلې.

شاعر د څه د پاره هدیره کیني؟ . دی ولې د تیارو کندې په لاسونو کیني؟ دکوم ویر کنده راباسي؟. دا بې ځوابه پوښتنې نه دي چې باراني یې په ساده شعري جمله کې رانغاړي.دې پوښتنې پرته له ماوتا دروند لوستونکی او پرته له باراني څخه ،پخپله ټولنه ځواب ورکړی دی، امادا‌سې ځواب چې ممکن زه و ته ورته متوجه نشو، باراني متوجه کېږي . دا پوښتنه مطرح ده چې ولې بارانی دې ټکي ته متوجه دی؟،هغه ځکه چې باراني، داندېښنو پرښته په دې تیارو ، دویر په دې کندو او دې هدېرې کې له پخوا دخاموشه سترګکونو د خندا څپې خورې کړې دي او دې یې دهستۍ د اصالت د ښوونځي اوله ځانه د بیګانه کولو لور ته د ځان پسې را کاږي. دغه دی شعر او دغه دی د شعري د دنیا د انځور او خیال دشمشاد هسکه چې شاعر ورسره سم پروازونه کوي،غواړي د هغې پرښتې سره غاړه غړۍ شي، ولې؟ ،ځکه چې شاعر له ټولنې جلا شوی دی.تک تنها او په ځان کې له ځانه یوازې اوسېږي. شاعر ته نور زما او ستا لیدنه جالبه نده، ولې؟. ځکه چې زه و ته هغه نه وینو او هغه پوهېږي چې زه و ته یې نه وینو، خبره یې نه آورو، په خبره یې نه پوهېږو، ژبه یې زما وستا له ژبې پردۍ ده. هغه پوهېږي چې زه وته څه وایو ، خو زه وته نه پوهېږو چې هغه څه وایي؟. ځکه نو دهغه او زمونږ ترمینځ ستونزه را ولاړېږي، هغه دې ټولنې ته یو پردی موجود ګرزي او زه و ته هغه ته نا آشنا کسان. ځکه نو دی له تنهایي ښرېږي،له ځانه ښرېږي، په ځان کې نه ځایېږي.او همداسې تر آخره.

ما هدېرې
ما د تیارو او ویرو کندې په لاسو کینلې.
له تنهایۍ وېرېږم،
ماته زما د پردي شوو پلونو لار وښایاست
غواړم له خپلو بلاربو شوو اندیښنو وتښتم .

مرحوم باراني ، څه موده مخکې څو شعرونه یې د فیسبوک له لارې را واستول چې په نوید روز ورځپاڼه کې یې چاپ کړم.د هغه د عکسونو سره په درې څلورو ګڼو کې مې چاپ کړ او ور ومې لېږل.راته یې وویل چې دا په جرمني که زما دکیس دپاره ګټه کوي.
بیا یې دکتاب درالېږلو تکل یې وکړ چې مقدمه پرې ولیکم.خو زه دبل چا پر کتاب باندې دمقدمې پر لیکلو بوخت وم او ورته مې وویل چې څو ورځې صبر وکړه.ده هم ولیکل چې تادې نه لرم.خو له بده مرغه چې دیوه ملګرې په وال کې مې دهغه د مرګ خبر ولوست.ما ویل ټوکه ده.خو حقیقت وو. ځکه نو غواړم دا لنډه لیکنه دهغه د کتاب دپاره یوه مقدمه او باراني ته دې ډالۍ وي.
مرګ حقیقت دی،هر څوک مري خو هېڅوک نه وایي چې زه مرم، یا زه دې ومرم.اما باراني دا مرګ پخپلو لیو کې ګرزول،هغه یې روزل او ورسره مینه یې کوله. دمرګ پر لمن

زېرېدلی شاعر،دمرګ پلار شو،هغه يې ونازول،لوی يې کړ او بلاخره دومره يې په مينه کې ډوب شو،چې دهمغه مرګ سره غاړه غړئ شو او مور ټول يې شاته پرېښودو.

زړه مې خپګان نيولی
خدای خبر چيرته يې وړي
دا مړاوې روح به مې آخر ووژني
په دې تنها دنيا کې
د واټونو په ساړه ذهن کې
ما د بې خوبه بې څښتنو سپيو مرګ ليدلی
ما ناهيلي روزلې
ما د دې سترو بيدياګانو خاموشي څښلې
ما هدېرې
ما د تيارو او ويرو کندې په لاسو کينلې.
له تنهايی وېرېږم،
ماته زما د پردي شوو پلونو لار وښاياست
غواړم له خپلو بلاربو شوو انديښنو وتښتم .
«باراني»
مسکو ،فدراتيف روسيه
د ۲۰۱۸ کال دجنوري ۲۹مه
فاروق فردا